# په لوړ غږ د قرآن تلاوت کوونکی د هغه چا په څېر دی چې په ښکاره صدقه او خیرات ورکوي، او په پټ او ټیټ غږ د قرآن تلاوت کوونکی د هغه چا په څېر دی چې په پټه صدقه او خیرات ورکوي

له عقبه بن عامر الجهني رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
"په لوړ غږ د قرآن تلاوت کوونکی د هغه چا په څېر دی چې په ښکاره صدقه او خیرات ورکوي، او په پټ او ټیټ غږ د قرآن تلاوت کوونکی د هغه چا په څېر دی چې په پټه صدقه او خیرات ورکوي".
[صحيح] [أبو داود، ترمذی او نسائی روایت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د قرآن په تلاوت سره غږ پورته کوونکی داسې دی لکه صدقه چې په ډاګه ورکوي او په پټه د قرآن تلاوت کوونکی داسې دی لکه څوک چې په پټه صدقه او خیرات ورکوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65055